# د مزدا پر لورې لاره

کښنم په شپه کې د سباپر لورې لاره
دسپېډو دځلېدا پر لورې لاره

که راچورلم ترخپل ځان بړبوکۍ وزمه
لنډوم خو د بېډیا پر لورې لاره

واسرو د وچو شاړوشنو خوبو ته
بیا هم څارم د زرغا پر لورې لاره

مرور خیال یې یو وخت ګوندې په تېرکې
راکږه کړي بیا زما پر لورې لاره

له ټګۍ برګۍ او دروهو، دروغو اخوا
چا ونه کښه د رښتیا پر لورې لاره

له تورمخو بوږنوړو واټونو
هسې باسم د ښکلا پر لورې لاره

کښنم په زړه کې د دې توروګورو وریځو
د ځلاو د برېښنا پر لورې لاره

پربولل بويه د يزيد، شمرپه وينو
د ټولوژلې كربلاپر لورې لاره

جوړمرغه داورو وينو د توپان يم
كه نغاړم د ژغور، سما پر لورې لاره

د خپل سر په بيه ما پر مخ اخېستې
د برې، سوبې، بريا پر لورې لاره

جارواته مې ترې د مرګ تر پولې نه شي
چې مې نغښتې د رڼا پر لورې لاره

روان تخت د سليمان به څه ارمانم
لكه لمر كړم د سبا پر لورې لاره

د قاف غرونه مې پر مخ هم تړاى نه شي
جابلقانه، جابلسانه پر لورې لاره

ما امرلې يې د مينې په تړون كې،
له ديوانه، د مزدا پر لورې لاره!

داكتر مجاور احمد زيار
لندن، ۲۰ ــ ۸ ــ ۲۰۰۵